د چوکات 1.1 نسخه

ضمیمه: د ناروېژي د ژبې د زده کړې د پلان لارښود

# د ناروېژي د ژبې د زده کړې په هکله پلان د هغه چا لپاره چې د ناروېژي او اجتماعیاتو د ژبې زده کړه کوي

## د تاسو د ناروېژی د ژبی د زده کړی پلان په هکله

- تاسو د کمون په همکاري سره د تاسو د ناروېژی د ژبی او د اجتماعیاتو په زده کړه کې د ګډون لپاره باید د ناروېژی د ژبی یو پلان جوړ کړي. زده کړه باید تاسو سره د ناروېژی د ژبی او د ناروی د ټولنیزه ژوند په هکله علمیت او معلوماتو په زده کړه کړي مرسته وکړي او ددې تر څنګ تاسو به دایمی کار ته آماده او مرتبط کړي.

## د ناروېژی د ژبی د زده کړی هدف

- ګډون کوونکی باید د ناروېژی د ژبی هغه ټېټه کچه تر لاسه کړي. کمون او ولایت باید په زده کړه کې کوشش وکړي چې ګډون کوونکي کم له کمه هغه ټیټه کچه ناروېژي ژبه یاده کړي. د ناروېژی د ژبی ټیټه کچه د هر ګډون کوونکي د هدف په اساس تعین کیږي.

## د ناروېژی د ژبی د زده کړی کچه او ضرب الاجلونه

- هغه کسان چې د اقامت حق لري چې هغوی ته د ناروېژی د ژبی او اجتماعیاتو په زده کړه کې هم حق او هم مکلفیت ورکوي ګډون تر هغه وخت د اعتبار وړ ده چې ګډون کوونکي د ناروېژی ژبی ټیټه سویه یی زده کړه، په دې معنی چې هغه د ناروېژی د ژبی د زده کړې هدف یی لاس ته راوړ. د منل شوي رخصتی په شمول د ژبی زده کړه د درې کلونو څخه ډېره اوږدیدلای نه شي.
- هغه ګډون کوونکی چې د مخه د لیسي په سطحه او یا د هغه څخه پورته تحصیلات لری د ژبی په زده کړه کې، د منل شوي رخصتی په شمول، د 18 میاشتو څخه د ګډون نه ډیر حق او نه مکلفیت لري.
- هغه ګډون کوونکي د ناروېژی د ژبی او اجتماعیاتو په زده کړه کې هم حق او هم مکلفیت لري د هغوی ګډون تر هغه وخت د اعتبار وړ ده چې ګډون کوونکي د ناروېژی ژبی ټیټه سویه یی زده کړه (د ګډون کوونکي د ناروېژی د ژبی د زده کړي هدف) لاس ته راوړي، او یا تر هغه وخت چې ګډون کوونکي د ناروېژی د ژبې په زده کړه کې 300 ګډون وکړ.
- د اجتماعیاتو د زده کړه به په هغه ژبه ترسره شي چې ګډون کوونکي پری پوه شي. زده کړه باید تر یوه کاله وروسته له دې چې هغه ته د ګډون حق او مکلفیت ورکړل شو، تر سره شي. که چیرته ولایت د اجتماعیاتو د زده کړې مسؤلیت په غاړه لري نو دا د اعتبار وړ نه ده.

## غیرحاضری او رخصتی

تاسو د کمون څخه د ناروېژی د ژبی او اجتماعیاتو په زده کړې د ګډون څخه کولای شې چې رخصت واخلی. ( په دې هکله خاص مقررات او قانونونه موجود دي. imdi.no ته مراجعه وکړی).

## د زده کړی کچه درول

- که چیرته یو ګډون کوونکي وضیعت فرق وکړی او هغه په دلایلو سره وړاندی کړي نو کمون کولای شي چې د هغه کس زده کړه په دایمی یا مؤقتی توګه ودروي. شرایط چې د زده کړې د درولو علت کیدای شی د مثال په توګه کیدای شي چې ډیره غیرحاضري، رویه چې د ګډون کوونکی او یا د نورو په زده کړه کې خنډ جوړي او یا ګډون کوونکی سخت او اوږد مهاله ناورغی لری ، وي.

## آزموینې

- هغه ګډون کوونکي چې د اقامت حق لري چې هغوی ته د ناروېژی د ژبی او اجتماعیاتو په زده کړه کې هم حق او هم مکلفیت ورکوي، مکلف دي چې د ناروېژی ژبی او اجتماعیاتو نهای آزموینه کې ګډون وکړي.

- مکلفیت د هغه چا لپاره د اعتبار وړ نه ده چې د ګډون څخه معاف وي. که چیرته ګډون کوونکي د آزموینې د ورکولو څخه د معافیت غوښتنه کړې او منظوره شوې وي کیدای شي چې د آزموینه له ورکولو څخه معاف شي، کمون د قانون او مقرراتو په رڼا کې دغه عریضې برسی کوي.
- د اجتماعیاتو نهایی آزموینه باید تر یوه کاله وروسته ددې چې د ګډون حق او مکلفیت ورکړل شو، تر سره شي. ( دا د اعتبار وړ نه ده که چیرته د اجتماعیاتو د زده کړی مسولیت د ولایت په غاړه وي).
- کمون او ولایت باید کوشش وکړي چې هغه ګډون کوونکي چې د ناروېژی ژبې او اجتماعیاتو د نهایی آزموینې ورکولو مکلفیت لري وکولای شي چې خپله آزموینې تر سره کړي.

### غواړې چې د تاسو د ناروېژی د ژبی د زده کړې په پلان شکایت وکړې؟

- تاسو کولای شي چې د ناریژی د ژبی د زده کړې د پلان په محتویاتو باندې شکایت وکړی.

*که چیری تاسو شکایت وکړ نو لاندیني شرایط باید په پام کې ونیسې:*

- تر دری هفتو وروسته له دې چې تاسو ته فیصله لاس ته راغله باید تاسو د ناریژی د ژبی د زده کړې په پلان باندی شکایت وکړې
- شکایت مو د کمون هغه ارګان ته تسلیم کړې چې د تاسو د د ناریژی د ژبی د زده کړې د پلان فیصله یی صادره کړې ده.
- واضح ولیکي چې تاسو په څه شي شکایت کوی
- تاسو باید شکایت امضاء کړې

یو بل تن هم کولای شي چې د تاسو په استازیتوب شکایت وکړي. ددې لپاره چې یو بل تن د تاسو په استازیتوب شکایت ولیکي تاسو باید هغه کس ته تحریری (وکالت خط) اجازه ورکړې وي. یو وکالت خط باید دا تشریح کړي چې د هغه تن کوم کارونه د تاسو په استازیتوب سرته رسولای شي. که چیرته تاسو وکیل لری بیا د وکالت خط ضرورت نه شته.

### چیرته تاسو د ناروېژی د زده کړې د پلان په هکله ډیر معلومات تر لاسه کولای شي؟

د ناروېژی د ژبی د زده کړې د پلان په هکله تاسو کولای شي چې د مدغم کیدلو په قانون کې ډیر معلومات لاس ته راوړی. دغه قانون او مقررې تاسو کولای شي چې په www.imdi.no او د ناروی د علمی مرکز په انترنتی صفحو کې لاس ته رواړي.

د زده کړې لپاره تاسو ښه چانس غواړم!